مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم
۲۰۲۳/۰۷/۲۳

# د خوب اوسنی تعبیر

زموږ یوه مهمه ستونزه دا ده، چې له هر څه سره خپل باور هم ورګډوو. د یوه ټلویزیون په سهارنی خپرونه کې، کله کله یو سړی د خلکو خوبونه تعبیروي. یوه ورځ یوې ښځې ترې وغوښتل چې خوب یې ورته تعبیر کړي. دې په خوب کې لیدلي وو چې: ((خپله خور وینې چې ځانمرګی برید کوي، ځان په بم الوځوي، ټوټې ټوټې کېږي؛ نو وروسته ونیې چې نه خور یې رکه روغه ده))
سړي ورته وویل: ((خوب دې داسې مانا لري، چې ممکن ستا له خور څخه به یو غیراخلاقي عمل صادر شي.))
ما چې د ده عجیبه ځواب واورېد، ټیلفون مې ورته وکړ، ځنې مې وغوښتل چې د خوب میکانیزم او اجزا راته بیان کړي، دا راته ووایې، چې موږ ولې خوب وینو او خوب مو له کومو توکو څخه رغیږي. سړي د ایتونو او احادیثو غېږې ته پناه یوړه، چې ((د خوب تعبیر حق دی)).
موږ مسلمانان د قران په ایتونو او احادیثو هیڅ شك نه لرو. حضرت عیسی علیه سلام به د ړندو پر سترګو لاس تېراوه، بینایي به یې ورکوله؛ خو زه و ته عیسی نه یو. که موږ وغواړو د خلکو د سترګو درملنه وکړو؛ نو باید د سترګو ډاکتر شو. حضرت محمد صلي الله علیه و سلم د براق په سپرلی معراج ته ولاړ؛ خو زموږ د پېر انسانان فضا ته د ختلو لپاره باید فضایي راکټ جوړ کړي. حضرت یوسف علیه سلام د خدای په امر د خوبونو د تعبیر توان پیدا کړ. مګر موږ د خدای عادي بنده ګان یو. موږ پیغمبران نه یو، چې معجزه وکړو. که موږ هر څه کوو باید د پوهې او تجربې پر اساس یې وکړو.
دا چې حضرت یوسف به څرنګه خوبونه تعبیرول، بېله خبره ده او د مومن عقیده یې ځواب ویلی شي. خو که موږ د خوبونو د تعبیر دعوا کوو، باید پر دې وپوهېږو، چې خوب څه دی؟ څنګه جوړېږي او له څه شي جوړېږي؟
د شلمې پېړی نامتو اروایوه زیګموند فروید لومړنی عالم و، چې د خوب لیدلو میکانیزم یې په عملي توګه بیان کړ. د همدې پېړی روسي فیزیولوژیست پاولوف، چې د شرطي او ناشرطي ریفلیکسونو نظریه یې ډېره مشهوره ده، د فروید د نظریې پلوی و او د خوب په اړه یې کتاب ولیکه.
پاولوف د فروید د نظریې پر اساس وایي چې خوب له دغو توکیو رغېږي:
۱. بهرنی تحریك
۲. د تېرو ورځو کارونه او فکرونه
۳. تېر یادونه
۴. تخیل
ته ویده یې. په انګړ کې سپی غاپي. د سپي د غپا اواز دې د غوږو له لارې ماغزو ته رسېږي. په خوب کې وینې چې سپین سپی دی په موټر کې اچولی دی، ډېر لري د غره لمنې ته یې یوړي، هلته یې خوشې کوې. بېرته راستنېږې، خپلې مېرمنې سره په باغ کې چکر وهې، د کور کالي یې په تن دي. سره او زېړ ګلان، د سنځلو د ګل خوشبویي، د روانو رنو اوبو شرهار دې مستوي. چې لږ وړاندې ځې مېرمن ته دې ګورې، کالي یې هماغه دي؛ خو څېره یې بدله ده، ډېره ښکلې ده، لکه حوره. څمکې ته ګورې د شپدو ویالې بهېږي. بلې خوا ته د شاتو لښتې روان دي. د باغ په منځ کې مرمرینه مانۍ ده، ورننوځې. پر مېز باندې د شرابو زرین جامونه ایښي دي. درسره روانې حورې ته ګورې، د دفتر نوې همکاره دې وې، اورده سپینه غاړه یې بالکل هماغسې وې، چې تا په دفتر کې لیدلې وه. په سرو شونډو کې درته موسېږي. جامونه له شرابو ډکوې. لا دې جام خولې ته نه وي پورته کړی، چې د سپي غپا اورې. مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

وراړوي، خپل سپي دي وي، وار په وار سره غټېږي، لويه بلا ترې جوړه شي، غږ يې وار په وار په زوټه کېږي. کوري کورې غږونه پرې کوي. په همدې وخت کې راويښيږي.
په دې فرضي خوب کې د سپي غپا بهرنی تحريك دی. انسان چې ويدېږي، د اورېدلو او بويولو حس يې تر يوې اندازې کار کوي. دلته ته د سپي اواز درك کوي.
دغه بهرنی تحريك ستا د څو ورځو د مخې له کارونو سره غوټه کېږي. ته له خپل سپي په تنګ وې، هغه انګړ چټلوي، مچان پرې راټول وي، خپله د ډوډۍ کاسه چپه کوي، وخت نا وخته غاپي. مېرمن دې هره ورځ درته لګيا وي، چې يا به سپی ورکوي يا به ما. تا وغوښتل چې سپی وشړې. سپی دې له خپل کوره لرې چېرته خوشې کړ. خو ماښام چې کور ته راغلې، سپی دې بېرته راستون شوی او د کور له وره سره دې پروت و. مېرمن ته دې وويل: دغه سپی به مو ارام ته پرې نږدي))
تېر يادونه هم له دغو ټوکو سره ګډېږي، څو کاله پخوا له خپلې مېرمنې سره د بابر باغ ته تللی وې، سپی دې هاغه مهال ډېر کوچنی او ښکلی و، سپي دې هم بېولی و. هلته دې له ښکلو ګلونو او ونو څخه ډېر خوند اخيستی و. دغه يادونه دې په خوب کې رابرسېره کېږي.
باغ له جنت سره ورته دی. جنت ته تګ د هر مومن د زړه غوښتنه وي، نو په خوب کې دې باغ په جنت بدلېږي، په جنت کې حورې وې. مېرمن دې په حوره بدلېږي. حوره سرې ته شهوت وريادوي، نوې همکاره دې يادېږي، چې هر وخت يې موسکا پر شونډو وي. د هغې هسکه سپينه غاړه دې ډېره خوښېږي. تا چې هر کله هغې ته د شهوت په سترګه کتلي دي، خپل وجدان رټلی يې. تا هر وخت د هغې په اړه خپل شيطاني فکر پر شا تمبولی دی، ته دغه فکرونه نه پرېږدې چې ذهن ته دې لاره وکړي؛ خو په لاشعور کې دې دغه شهواني هيله پاتې شوې ده. اوس چې يې مناسبه موقع موندلې، رابرسېره شوې ده.
په انګړه کې بيا د سپي غپا زور اخلي، ته يې اورې. موږ له بلا ډارېږو او هر شی چې زموږ ذهن او اروا ځوروي، د بلا حيثيت راته لري. په همدې وجه، تخيل لاس په کار کېږي، په خوب کې دې سپی په بلا بدلوي. خپله خبره دريادېږي، چې مېرمن ته دې کړې وه: ((دغه سپی به مو ارام ته پرې نږدي.)) په خوب کې دې هم سپی عيش درخرابوي. ځنګه چې په انګړه کې د سپي اواز وار په وار په زوټه کېږي، د غوږو له لارې دې لا قوي سيګنالونه ماغزو ته رسېږي او له خوبه دې راويښوي.
البته دا مثال ډېر ساده و؛ خو خوبونه تر دې ډېر پېچلي هم وي. د معلوماتو په رايادولو کې ماغزه د ورته والي، ضديت او مجاورت له مخې بېل معلومات سره يو ځای کوي. که د يار خال يادوو، ورسره د اسمان ستوری مو هم رايادېږي، ځکه چې سره ورته يې ګڼو. له شپې سره ورځ، له ګل سره خار او له تور سره سپين مو په ذهن کې تېرېږي، ځکه چې يو د بل ضد دي. که د غاړې خبره کوو، سر مو په خپله رايادېږي، ځکه چې سره ځنګلوري دي. همدارنګه ذهن معلومات بدلوي او اړوي يې. مېرمن په حوره او حوره په ښځې بدلوي. د لاشعور دخالت خوبونه لا پېچلي کوي. البته د خوب ليدلو لپاره بهرنی تحريك حتمي شرط نه دی.
زما په ګومان د خوبونو د تعبير يوازينۍ لاره ارواپوهنه او اروا شننه ده، که څوك په دغو څانګو کې مهارت ولري، ممکن راته وويلای شي، چې پلانکی خوب مو ولې ليدلی دی. خو که يو څوك په اروا پوهنه نه وي خبر، بايد ځان ته دا حق ورنه کړي، چې د خپلو ناسمو ويناوو په وجه خلکو ته انديښنې ورپيدا کړي. د ليدلي خوب شننه ممکن زموږ د ماضي په اړه راته يو څه ووايي؛ خو له راتلونکي سره هېڅ رابطه نه لري. ځکه چې خوب له تېرو تجربو او خاطراتو زېږي، نه د سبا له پېښو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ